# مدني ښکیلتیا
# اوټولنیز یووالي

ټولنې اوسیدونکي د مدني ښکیلتیا له لارې په ټولنیزو پروسو په ګډون کې خپل غږ واوروي. مدني ښکیلتیا د عامه اندیښنو او مسلو لکه د خدماتو وړاندې کول او سوله ایز همغږي کې د ټولنې ګډون د هڅولو لپاره یوه لاره ده.

## ټولنیز یووالی

ټولنیز یووالی د سولې او سوکالۍ لپاره یو مهم محرک دی. ټولنیز یووالی په جامعه کی مساوی پرمختګ را مینځته کوي چی د ټولنې غړي د حکومتدارۍ په سیستمونو کې په معنیوی ډول شامل دي. دا ګډ ارزښتونه رامینځته کوي او نابرابرۍ کموي . په یوه همغږي ټولنه کې، ټولې ډلې د نژاد او طبقې په پام کې نیولو پرته د تړاو احساس لري او په ټولنیز ژوند کې برخه واخلي. د یوې همغږې ټولنې د جوړولو مهمه برخه د ټولنیز هویت درک او درناوی دی. نژاد، توکم، ملیت، جنسیت، مذهب، ژبه، مسلک او طبقه هغه فکتورونه دی چې هویت مشخصوي . ټولنیز هویت د تاریخ، تجربو، پریکړو او تعاملاتوپه واسطه جوړیږي. دوامداره نابرابرۍ او ناخوالې چې د نه زغم او رواج په پایله کې رامینځته کیږي ، ټولنه حاشیې وړوي. پیاوړی ټولنیز یووالی د ټولنو انعطاف زیاتوي او د سختو ستونزو سره د مبارزې لپاره چمتو وي. د ټولنې تعامل او تنظیم د ټولنې د غړو ترمنځ انزوا کموي. دا انزوا د ټولنیزو شبکو په رامینځته کولو کې مرسته کوي چې د اړتیا په وخت کې د ټولنیزې پانګونې ، سرچینو او مرستو تبادله کې کمک کوي. په پایله کی، هغه ټولنې چې لوړ ټولنیز یووالی لري کولی شي ځواب ووایي او له له ستونزو څخه خلاصون ومومي.




## د بشری حقونو د څیړنې او دفاع ډله

ادرس: ۱۲نمبر کور، څلورمه کوڅه، دیارلسم سرک، وزیر اکبر خان، کابل افغانستان.

د اړیکی شمیرې : ۰۲۰۲۳۱۱۴۳۷

ایمیل: info@hrrac.af

ویبسایت: www.hrrac.af




## شخړه څه شی دي؟

شخړه د دوه یا ډیرو اړخونو ترمنځ یو ستونزمن حالت دی، چې کله ناکله د فزیکي تاوتریخوالی پایله لرلی شي. شخړې د سرچینو کمښت او په دودونو، ګټو، فکرونو او ارزښتونو کې توپیرونو له وجهی رامنځته کیږی. په ټولنو کی لاندې ټکی د شخړی سبب کیږي.

- په ټولنیز او اقتصادي ادغام کې ستونزې، په ټولنه کې د مدني جوړجاړی نشتوالی .
- ناحل شوې مسلې او ناکافي زیربناوې .
- ♦ په ټولنه کی روغتیایی خدماتو، تعلیمي فرصتونو او بشردوستانه مرستو ته نه لاسرسی ..
- په ټولنیزو رسنیو کې ناسم معلومات .



## دادخواهی یا وکالت څه شی دی او څنګه د شخړو په حل کولو کې مرسته کوي؟

دادخواهی یوه کلیدي وسیله ده چې د ټولنیز یووالي په ننګونو کمولو کي مرسته وکړی. دا نه یوازې د پالیسۍ د بدلون په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، بلکې د محلي ګټې او اړتیاوې په ملي کچه او نړیوالو مشارکت کې شامل شي. محلي حکومت او مدني فعالین کولی شي د سیمه ایزو اندیښنو لپاره د مشارکت او پروګرامونو رامینځته کولو کې مرسته وکړي، او د نړیوالو او ملي شریکانو څخه تمویل ته لاسرسي پیدا کړی. مدافع وکالت له هغه منظمو هڅو څخه عبارت دی چې په قوانینو اغیزه او د پریکړې کولو په بهیر کې ګډون هڅوي. وکالت د ټولنې پوهاوی زیاتوي، ځانګړو مسلو ته پام اړوي او حل پیدا کوي. د ځواب ویونکو قوانینو لپاره د مدافعې په واسطه، د سرچینې تخصیص، پالیسۍ او نوښتونه، ټولنې په سیمه ایزه کچه ټولنیز یووالي او شمولیت ته وده ورکوي.


**د شکایتو او وړاندیزونو لپاره اړیکه ونیسئ!**

**د بشری حقونو د څیړني او دفاع ډله**

ادرس: ۱۲نمبر کور، څلورمه کوڅه، دیارلسم سرک، وزیر اکبر خان، کابل افغانستان.

د اړیکی شمیري : ۰۲۰۲۳۱۱۴۳۷

ایمیل: info@hrrac.af

ویبسایت: www.hrrac.af


## خبري اترې او د شخړو حل

- خبرې اترې د تاوتریخوالي کمولو لپاره یوه مهمه وسیله ده. چې په ټولنه کې ګډ تفاهم او جدا جدا نظرونو رامنځته کوي او پدې سره یو پر بل باور اضافه کیږي.
- تسهیل کونکی د ګډونوالو لپاره یو خوندي چاپیریال چمتو کړي چی د ټولنې له لید او د غړو شخصي ژوند څخه په حساس مسلو بحث وکړي. دا اړینه ده چې تسهیل کوونکي فکر وکړي چې ولې خبرې اترې مهمې دي او د دوی خپل نظرونه شریک کړی.
- تسهیل کونکی باید ډاډ ترلاسه کړي چې چاپیریال یو مسوون ځای وی، او ګډونوال وهڅوي چې نورو ته غوږ ونیسي اوټول ګډونوال د خبرو کولو فرصت ولري.
- شخړې ډیر وختونه شخصي وي، پدی اساس د قوي احساساتو او نظرونو لامل شي نو ګډونوال باید په ډاډه زړه خپل نظر څرګند کړي.

